# عثمانِ غنيرَضِیَ اللّٰہ عَنْہ

# او محبتِ اِلٰهي



29-July-2021

هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# عثمانِ غني او محبتِ اِلٰهي

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبـي مُحَمَّدِ عَرَبِـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: خپل مجلسونه په ما باندې دُرُود شريف لوستلو باندې ښائسته كړئ! بيشكه ستاسو په ما باندې دُرُود شريف لوستل به په ورځ د قيامت ستاسو د پاره نُور وي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1]...جَامِعُ صَغِير، حرف: زاء، صفحه:280، حديث:4580۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تَدْخُلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ** (يعنې) ښه نِيَّت بنده جَنَّت ته داخلوي. (1)

**اے عاشقانِ رَسُول!** ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابي، حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِيَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې سلطانِ دوجهان، اِمامُ الانبياء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْاِيْمَانِ** درې صِفات دي، دا چې په كوم كس كښې وي هغه به د اِيمان خوږ والے اوموموي. [يو دا چې] (1) هغه د هر څيز نه زيات د الله او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحَبَّت لري [دويم دا] (2) چا سره چې هُم مَحَبَّت كوي، صرف د **الله** پاك د رِضا د پاره مَحَبَّت كوي [او دريم دا چې] (3) د مسلمانيدو نه پس بيرته د كُفر دَلدَل ته غورزيدل هُم داسې ناخوښه ګڼړي څنګه چې اور ته غورزيدل

---

1 ...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

ناخوښه ګڼړي.(1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا درې صِفات دي: د خپل ځان، مال، اولاد وغيره هر څيز نه زيات د **الله** پاك او د هغه د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحَبَّت كول، د دې نه علاوه د چا سره چې هم مَحَبَّت كول وي، مَثَلاً د خپل اُستاذ، پير صاحِب، مور و پلار، اولاد سره مَحَبَّت كول، غرض د چا سره چې هم مَحَبَّت كول وي، چې د دُنيا د پاره نه بلكه د **الله** پاك د رِضا د پاره مَحَبَّت وي، او دريم وَصف دا چې د كُفر نه داسې نفرت كول لكه په اور كښې د غورزيدلو نه چې نفرت كوي، دا درې صِفات چې كوم خوش نصيبه ته حاصل شي، هغه ته د اِيمان خوند حاصل شو او چا ته چې د اِيمان خوند نصيب شي هغه كامياب شو، چا ته چې د اِيمان خوند نصيب شي هغه ته د عبادت شوق نصيب كيږي، چا ته چې د اِيمان خوند نصيب شي هغه كامِل مُومِن جوړيږي، چا ته چې د اِيمان خوند نصيب شي هغه غټ غټ مشكلات په خوشحالئ برداشت كوي، هغه ته يو مشكل هُم بيا مشكل نه ښكاري. اوګورئ! حضرت اِمام حُسَين رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه په ميدانِ كربلا كښې درې ورځې لَوږه تنده تيره كړه، د خپل خاندان 72 كسان ئې قُربان كړل، ورو‌كے شهزاده علي اصغر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه هم شهيد شو، په آخر كښې حضرت اِمام حُسَين رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه پخپله هُم شهيد شو خو په ژبه ئې اُف هم اُونه وئيلو، او د ذرے برابر ناشكري ئې هم اونكړه، دا ټول څه وو...؟ دا د اِيمان طاقت وو، دا د اِيمان خوند وو، خواجه سِرّي سَقطِـي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه 98 كاله د دُنيا ژوند تير كړے دے، د ځنكدن د وخت نه علاوه چا هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په ملاسته نه وو ليدلے، هميشه به ئې عبادت كولو. محمد جريري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو كال په مكه مكرمه كښې اوسيدلے وو، نه اوده شوے وو، نه ئې ملا نيغه كړي وه،

---

1...بخاری، کِتَابُ الْاِیْمَان، باب: حَلاوةُ الْاِیْمَان، صفحه:74، حديث:16۔

نه ئې ښېږې غزولې وے، د سحر د لمَانځه نه پس به ئې د الله ذِکر شروع کړو، ماسپښين به شو، د ماسپښين نه پس به بيا په ذِکرُ الله کښې مصروف شو، مازديګر به شو، د مازديګر نه تر ماښامه پورې، د ماښام نه تر ماسخُتنه پورې، او د ماسخُتن نه د صبا سحره پورې به ئې د الله ذِکر کولو، حضرت ابُوبکر عياش رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به هره ورځ 30 زره ځله سورۀ اِخلاص لوستلو، هره ورځ به ئې 500 نوافِل ادا کول، په ورځ کښې به ئې څو څو ځله قرآنِ پاک ختمولو. اِمام اعظم ابُوحنِيفه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه 40 کاله د ماسخُتن په اوداسه د سحر لمُونځ ادا کړے دے، هره شپه به ئې په دوو رکعتو کښې د قُرآنِ کريم ختم کولو.

د **الله** پاك د بندګانو داسې هِمَّت، طاقت او په عبادت کښې داسې استِقامَت...! دا څه دي؟ دا د اِيمان طاقت دے، دا د اِيمان خوند او خوږوالے دے، کوم چې دغه نيکو بُزُرګانو ته حاصل وو، دا خوند څنګه حاصليږي؟ مونږه حديثِ پاك واوريدلو چې څوك د **الله** پاك او د هغه د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره کامِل مَحَبَّت کوي، د بل چا محبت ته د هغوئې په محبت باندې ترجيح نه ورکوي، که چا سره محبت کوي نو هُم د الله د پاره، او د کفر نه نفرت کوي نو هغه ته د اِيمان خوږوالے نصيب کيږي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مَحَبَّت حقدار صِرف الله پاك دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې حديثِ پاك نه معلومه شوه چې د **الله** پاك او د هغه د رسول، رَسُولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَحَبَّت د ټولو کمالاتو اصل دے، ❀ چا ته چې د الله او رسول مَحَبَّت نصيب شي، د هغه زړه پاك شي، ❀ چا ته چې د الله او رسول مَحَبَّت نصيب شي، د هغه اِيمان مضبوط شي ❀ چا ته چې د الله او رسول مَحَبَّت نصيب شي، هغه ته د عبادت خوږ والے نصيب شي، ❀ چا ته چې د الله او رسول مَحَبَّت نصيب شي، هغه ته د آخرت فِکر نصيب شي او ❀ چا ته چې د الله او رسول

مَحَبَّت نصيب شي، هغه د تاج و تخت او حکومت لالچ نه لري، ❀ چا ته چې د الله او رسول مَحَبَّت نصيب شي، هغه صرف د **الله** پاك او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رِضا طلبګار جوړ شي.

**اے عاشِقانِ رسول** د حديثِ پاك نه دا هم معلومه شوه چې اصل مَحَبَّت صِرف د **الله** پاك دے، د دې نه سِوا چې د چا سره هم مَحَبَّت کيږي هغه به صِرف او صِرف د **الله** پاك د رِضا د پاره وي. اِمام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اِحياءُ العلوم کښې تحقيق کړے دے چې د مَحَبَّت حقدار صِرف او صِرف **الله** پاك دے. بعض ناپوهه وائي چې عشقِ مجازِي يعنې د ګناهونو ډك دُنيوي عشق "**عِشقِ حقيقي**" ته د رسيدلو ذريعه ده، دا ناپوهه په سخته غلطئ کښې اخته دي، د اعلٰی حضرت والِدِ مُحتَرَم حضرت مولانا نقـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **په شريعت کښې د غَيرُ الله مخې ته سر ټيټول منع دي نو د غَيرُ الله د پاره زړه ټيټول څنګه صحيح کيدے شي.** [(1)]

خو! مَحَبَّتِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د غَيرُ الله مَحَبَّت نه دے بلکه هغه د الله مَحَبَّت دے ځکه چې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت د **الله** پاک د عظيمې رضا د پاره دے او چا ته چې مَحَبَّتِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نصيب نه شي، هغه هيڅ کله مَحَبَّتِ اِلٰهي نه شي حاصلولے. قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ (پاره3،سورةآل عمران:31) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: اے حبيبه! اوفرمايه چې اے خلقو! که تاسو د الله سره مَحَبَّت کوئ نو زما فرمانبردار جوړ شئ الله به تاسو سره مَحَبَّت اوکړي. |

[1]...اَنوارِ جمالِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ، صفحه:413 ملتقطًا۔

حديثِ پاك كښې دي: الله پاك سره مَحَبَّت اوكړئ چې هغه تاسو ته نعمتونه عطا كوي او د الله پاك د مَحَبَّت د پاره زما سره مَحَبَّت اوكړئ او زما د مَحَبَّت د پاره زما د اهلِبيتو سره مَحَبَّت اوكړئ. په يو بل حديثِ پاك كښې ارشاد دے: چا چې زما د صحابؤ سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو، چا چې زما د صحابؤ سره بُغض اوساتو، هغه زما سره بُغض اوساتو.

**مُفسّرِ قرآن**، مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د **الله** پاك د مَحَبَّت د پاره د هغه د رسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحَبَّت ضروري دے او رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحَبَّت د پاره د ټولو صحابهٔ كرامو، د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اهلِ بيتو، د اولادِ پاك او د ازواجِ مُطَهَّراتو سره مَحَبَّت لازم و ضروري دے، **دا ټول مَحَبَّتونه په اِيمان كښې داخل دي بلكه عينِ اِيمان (يعني د اِيمان بُنياد) دے.** (1)

محمد کی محبت دینِ حق کی شرطِ اَوَّل ہے | اسی میں ہو اگر خامی تو سب کچھ نامکمل ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشِقانِ رسول!** **18** ذُوالحجه د اِسلام د دريم خليفه **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د عُرس مبارک ورځ ده، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د **الله** پاك سره ډير مَحَبَّت كوونكے وو، راځئ چې د حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سيرت په رنړا كښې اوګورو چې د **الله** پاك سره د مَحَبَّت كوونكو د ژوند انداز څنګه وي؟ د هغوئي اوصاف څه څه وي؟ نو دغسې به مونږ ته د حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ذِكر بركتونه هم نصيب شي او ورسره ورسره به **الله** پاك سره د مَحَبَّت كوونكو يو څو طريقے او اوصاف هم زده كول رانصيب شي.

---

1...تفسیر نعیمی، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:165، جلد:2، صفحہ:137۔

## د حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مُختصر تَعَارُف

❀ حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابي دے ❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ترور [يعني د پلار د خور] حضرت اُمِّ حَكِيم نمسے رَضِیَ اللہُ عَنْہَا [يعني د لور څوئ] دے يا په لرې خپلوئ كښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خورئيے كيږي ❀ د سابِقِينِ اَوَّلِين نه دے يعنې په شروع كښې ئې اسلام قبول كړے وو، د اسلام په قبلولو كښې حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په څلورم يا پينځم نمبر دے، ❀ د عشره مُبَشَّره نه دے (يعني د هغه لسو صحابَهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان نه دے چا ته چې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپله ژبه مُبارَكه د جَنَّت زِيرے وركړے دے) ❀ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره دومره زيات مَحَبَّت كولو چې خپلې دوه شهزادګـۍ ئې پرله پسے د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په نكـاح كښې وركړې.[1] په دې وجه حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته **ذُو النُّورَين** وائي، ❀ په حديثِ پاك كښې دي: [نبـي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي] **الله** پاك ما ته وحي اوفرمائيله چې زه د خپلو دوو لونړو نكـاح د حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره اوكړم.[2] ❀ په يو بل حَديثِ پاك كښې دي: كه زما 100 لونړه وے، په هغې كښې يوه وفات كيدے نو ما به دويمه د حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په نكـاح كښې وركولے، كه هغه وفات كيدے نو ما به دريمه د عُثمان په نكـاح كښې وركولے تر دې پورې چې ما به خپلې 100 واړه شهزادګۍ پرله پسے د عُثمان په نكـاح كښې وركړې وے.[3] ❀ د مولائے كائنات حضرت عَلِـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه د حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مُتَعَلِّق تپوس اوشو نو هغوئي اُوفرمائيل: عُثمان

---

1 ...نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544، خلاصۃً۔

2 ...معجم الاوسط، جلد:2، صفحہ:346، حدیث:3501۔

3 ...کنز العُمّال، کتاب:الفضائل، جلد:7، جُز:13، صفحہ:21، حدیث:36201۔

هغه دے چا ته چې فرښتے "ذُوالنُّورَين" وائي، د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُوم دے، خورږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته د جَنَّت زِيرے ورکړے دے.[(1)] ❁ په يو حدِيثِ پاك کښې دي : عُثمان خومره ښه انسان دے، زما زُوم دے، زما د دوو لونړو خاوند دے، الله پاك په هغه کښې زما نُور جمع کړے دے.[(2)]

نبی کے نور دو لے کر وہ ذوالنورین کہلائے | انہیں حاصل ہوئی یوں قربتِ محبوبِ رحمانی[(3)]

❁ د اسلام د دويم خليفه اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن حضرت عُمَرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د شهادت نه پس د مسلمانانو په کثرتِ رائے سره حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ خليفه مقرر شو، دولسو کالو پورې هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ خليفه وو، په 18 ذُوالحجه سن 35 هجري کښې د 40 ورځو پورې د لوَږې او تندې د اوسيدلو په حالت کښې په ډير ظُلم سره شهيد کړے شو.[(4)]

## "قُبُولِ حق" د مَحَبَّتِ اِلٰهي د پاره شرط دے

د اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن، حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د اسلام قبلولو نه مخکښې خبره ده، يوه شپه هغوئي کور ته تشريف راوړلو نو اوئې ليدل چې د هغوئي ترور [يعني د مور خور] حضرت سُعدٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا کور ته راغلې ده، ترور ئې چې حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اوليدلو نو اوئې فرمائيل: اے عُثمان! مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نبـي دے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم الله پاك بُرهان (يعني دليل) جوړ کړے او دِينِ حَق سره ئې راليږلے دے، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري اوکړه.

---

1 ...رياض النضرة، مناقب: عثمان بن عفان، اسمه و کنيت، جز:3، صفحه:6۔
2 ...روض الفائق، مجلس: ثالث والخمسون، مناقب الخفاء، صفحه:313۔
3 ...وسائل بخشش، صفحه:584۔
4 ...نزہۃ القاری، جلد:1، صفحه:544۔ کراماتِ عثمان غنی، صفحه:3۔

ترور ئې د حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پوهه کولو د پاره د رښتيني دِينِ اسلام مُتَعَلِّق نورې خبرې هم اوکړې، حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي:د ترور خبرې زما په زړه کښې کښيناستلې، نو ما د هغې په باره کښې غور و فِکر شروع کړو. حضرت ابُوبَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ زما دوست وو، زه د هغوئي خوا ته لاړم، اِتِّفاقاً هغه وخت هغوئي يواځې وو، ما لا د خپلې ترور په خبرو غور کولو، حضرت ابُوبَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ چې زه په سوچ کښې ډوب اوليدم نو تپوس ئې رانه اوکړو، ما د خپلې ترور ټولې خبرې حضرت ابُوبَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته واورولې، زما د خبرو په اوريدلو حضرت ابُوبَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اوفرمائيل: عُثمانه! ته خو پوهه سړے ئې، په تا باندې حق څنګه پټ پاتې شوے دے...؟ بيا حضرت ابُوبَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ما ته د اسلام په باره کښې خبر راکړو، د کفر و شِرك د سپيره والي نه ئې خبر کړم او اوئې فرمائيل: **عُثمانه! ستاسو ترور رښتيا فرمائيلي دي، واقعي مُحَمَّد بِن عبدُ الله** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د الله** پاك رښتينے رسول دے. **الله** پاك د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سر مبارك د رِسالَت تاج ايښودے دے او د ټول مخلوق د هدايت د پاره ئې راليږلے دے، اے عُثمانه! تاسو پخپله د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ولے نه حاضريږئ او د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کلام ولے نه اورئ؟

د حضرت ابُوبَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په ترغيب باندې حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خوږ نبــي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضريدلو ته تيار شو خو قِسمَت ته نور څه منظور وو، حضرت عُثمانِ غنــي او حضرت ابُوبَكـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما لا هُم دا خبرې کولې چې د دوارو جهانو سردار، مُحَمَّدِ عَرَبِـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي په خوا تيريدلو، چې حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ئې اوليدلو نو نِزدے ئې تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: **يَا عُثْمَانَ! اَجِبِ اللّٰهَ اِلىٰ جَنَّتِهٖ, فَاِنِّیۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ اِلَيۡكَ وَاِلىٰ خَلۡقِهٖ** يعنې عُثمانه! جَنَّت

طرف ته د **الله** پاك (په رابللو، د هغه) په دعوت باندې **لَبَّيْك** اووايه...!! بيشكه زه ستا او د ټول مخلوق طرف ته د **الله** پاك رَسُول يم.

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مباركو خبرو د حضرت عُثمانِ غنـي رَضِيَ اللهُ عَنْه په زړه ډير اثر اوكړو، حضرت عُثمانِ غنـي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د مُصطفٰى جانِ رَحمَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاكيزه كلام چې مې واوريدلو نو بے قابُو او پرې قربان شوم او او فوراً مې په رښتيني زړه سره اووئيل:

أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (1)

يعنې زه ګواهي وركووم چې د الله نه سِوا څوك د عبادت لائق نشته، هغه يو دے، د هغه څوك شريك نشته او ګواهي وركووم چې بيشكه **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله رسول دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** په دې حكايت كښې د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنـي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اسلام قبلولو بيان دے، يو اهم مدني ګل كوم چې د دې حكايت نه حاصل شو هغه دا دے چې د چا زړه د **الله** پاك د **مَحَبَّت اَهْل** [يعنې لائق] وي، هغه بنده ضِد نه كوي، په غلطئ باندې نه اودريږي بلكه هغه په حق خبره قبلولو كښې تادي كوي، غور اوكړئ! كله چې حضرت عُثمانِ غنـي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د رښتيني اسلام مُتَعَلِّق اووئيل شو نو هغوئي په دې باره كښې غوروفِكر اوكړو، حق خبره ئې قبوله كړه او فوراً ئې كَلِمه اولوستله او مسلمان شو.

اوس د دې برعكس غور اوكړئ! كله چې حضرت عُثمانِ غنـي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اسلام قبول كړو نو په هغه وخت كښې څومره داسې كافِران وو مَثَلاً ابوجهل، عُتبه، شَيبَه او

---

1 ...رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:الرابع، جز:3، صفحه:98 خلاصةً۔

ابولهب وغیره وو، دغه کافرانو ته د سپوږمۍ دوه ټکړے کولو مُعجزه اوښودلے شوه، د هغوئي په مخکښې کانړو کلمه اووئیله، قرآني آيتونه ورته اولوستل شو، نورې غټې مُعجزے ورته ښکاره کړے شوې، خو هغه بدبختو حق خبره قبوله نه کړه، نه ئې کلمه اولوستله، او نه مسلمانان شو، دغه کافرانو ته د **الله** پاك مَحَبَّت نصيب نه شو، او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت نه هم محرومه شو، کافران وو، کافران پاتې شو او د کفر په حالت کښې مړه شو او دوزخيان اوګرځيدل.

معلومه شوه څوك چې حق خبره نه قبلوي، هغه ته مَحَبَّتِ اِلٰهي نصيب کيدل سخت ګران بلکه ناممکن دي. **شيخ شَهَابُ الدِّيْن سُهْرَوَرِدِي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د مَحَبَّت د پاره توبه شرط ده. نور فرمائي: د مَحَبَّت مقَام د نُورِ يقين په غلبه حاصليږي. (1)

معلومه شوه د کوم بنده په زړه کښې چې نُورِ يقين نه وي، څوک چې په غټو غټو مُعجزو ليدلو ايمان رانوړي، سپوږمۍ په دوه ټکړے کيدلو ليدلو ته، ونې په روانيدلو ليدلو ته، د کانړو کلمه لوستل په خپلو غوږو اوريدلو ته **مَعَاذَ الله**! جادو وائي، څوك چې په خپل ځان غور نه کوي، خپل عيب نه پيژني، توبه نه کوي، کفر و شرك نه پريږدي، ضِد کوي، حق خبره قبلولو ته تيار نه وي، هغه بنده هيڅ کله د مَحَبَّتِ اِلٰهي نِعمَت نه شي حاصلولے. او څوك چې حق خبره قبلوي، حق مني، کلمهٔ حق لولي، اِيمان قبلوي، صرف هغه د **الله** پاك مَحَبَّت حاصلولے شي، او هغه د **الله** پاك سره څنګه مَحَبَّت کوي؟ **الله** پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ (پارہ2،سورۃالبقرۃ:165) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: او اِيمان والا خلق د ټولو نه زيات د الله سره مَحَبَّت کوي. |

---

1 ...عَوارِفُ المعارف، صفحه:719717۔

په **قُوتُ الْقُلُوب** كښې دي: هر مُومِن د **الله** پاك سره **مَحَبَّت** كوي، البته د هر يو **مَحَبَّت** د هغه د اِيمان د مضبوطيا مطابق كم يا زيات وي. **(1)**

| | |
|---|---|
| مٹ جائے یہ خُودی تو وہ جلوہ کہاں نہیں | دردا میں آپ اپنی نظر کا حجاب ہوں |

**وضاحت**: يعني كه زمونږه ځان ښه كنټرل او غرور و تكبر ختم شي نو د **الله** پاك د قدرتونو نظارے هر ځائے دي، هائے افسوس! مونږه پخپله په خپلو سترګو باندې د ځان ښه كنړلو او غرور و تكبر پردے اچولي دي ځكه خو د **الله** پاك د قُدرتونو نظارے نه شو كولے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رضائے اِلٰهي د پاره بےقراره اوسيدل

حضرت ابُوهُريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيمار شو، سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان سره د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تپوس له تشريف يوړلو، اوئې ليدل چې حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپل مخ زمكې طرف ته كړے دے او ملاست دے، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: عُثمانه! څه شوي دي، خپل سر ولے نه اوچتوے؟ عرض ئې اوكړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما له د **الله** پاك نه حيا راځي. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ولے حيا درځي؟ عرض ئې اوكړو: **يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه ويريږم چې هسې نه زما ربّ زما نه ناراضه شوے وي....!! (2)**

اَللهُ اَكْبَر! اَللهُ اَكْبَر! **اے عاشِقانِ رسول!** حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ څه ګناه نه وه كړې، د **الله** پاك د ناراضئ والا څه كار ئې نه وو كړے، خو ښوك چې رښتينے عاشق وي، هغه بس هر وخت دا ويره لري چې چرته زما محبوب زما نه ناراضه نه شي. حضرت

---

1 ...قوت القلوب، ذكر احكام المحبة، جلد:2، صفحه:82۔

2 ...رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحه:20۔

عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم دا ويره لرله، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ځکه خپل مخ زمکې طرف ته کړے ملاست وو او سر ئې نه اوچتولو، يعني په خپل خيال کښې ئې د پښيمانتيا اِظهار کولو چې هائے! چرته زما ربّ زما نه ناراضه شوے نه وي. کله چې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل خوږ صحابي حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا خبره واوريدله نو اوئې فرمائيل: عُثمانه! دا جبريل (عَلَیْہِ السَّلام) دے، ما ته خبر راکوي چې ته د آسمان والؤ نُور، او د زمکې والؤ او د جَنَّت والؤ شمع ئې.[1]

اے عاشِقانِ رسول اندازه اوکړئ! دا دي د **اللّٰه** پاك سره د مَحَبَّت کوونکو حالات...! ښوك چې واقعي **اللّٰه** پاک سره مَحَبَّت کوونکے وي هغه د دې خبرې ويره لري چې هسې نه زما رب زما نه ناراضه شي، چرته زه د خپل رب د دَر نه لرې نه شم، چرته زما رب ما د خپلې بارګاه نه جُدا نه کړي. نو هغه ناپوهه خلق چې د مَحَبَّتِ اِلٰهي اوچتې دعوے کوي خو د **اللّٰه** پاك د ناراضئ والا کارونه هُم کوي، لمُونځونه قضا کوي، روژے نه نيسي، صدقه و خيرات نه کوي، د زنانؤ په شان اوګږده ويښته پريږدي، نشے تماشے کوي او دعوٰی ئې دا وي چې مونږه عشق والا يُو، زمونږه د **اللّٰه** پاك سره مَحَبَّت دے. خو که هغوئي ته د نيکئ دعوت، د لمُونځونو ادا کولو دعوت ورکړے شي، د ګناهونو پريښودلو، د رب د ناراضه کولو والا کارونو پريښودلو دعوت ورکړے شي نو ډير په جُرأت سره وائي: جناب! لمُونځونه تاسو ادا کوئ! مونږه خو هسې هُم رسيدلي يُو.

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه! دعوٰی د مَحَبَّتِ اِلٰهي کوي....! او کارونه د **اللّٰه** پاك د ناراضه کولو کوي او په دې د پاسه داسې د جهالت خبرې.....!!! لمُونځ د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې حاضري ده. لمُونځ د **اللّٰه** پاك سره ملاقات دے، لمُونځ ګزاره په لمَانځه کښې د **اللّٰه** پاك

---

1 ...رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحه:20۔

نه دُعاګانې غواړي، آيا څوک داسې مَحَبَّت کوونکے هُم شته چې د خپل محبوب سره ملاقات کول نه خوښوي، يعني کله چې محبوب سره د ملاقات کولو [يعني د لـمانځه] وخت راشي نو وائي: زه رسيدلے يم [يعني د لـمانځه نه کولو باوجود د الله بارګاه ته رسيدلے يم، يعني څکه] ما ته د محبوب د ملاقات حاجت نشته؟ حضرت جُنيد بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رښتيا فرمائيلي دي چې آو! داسې کس ضرور رسيدلے دے خو چرته؟ دوزخ ته [رسيدلے وے]. الله پاك ارشاد فرمائي:

وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿۹۹﴾

(پاره:14، سورۂ حِجر:99)

مفهوم ترجمه کنز العرفان: او د خپل ربّ عبادت کوه تر دې پورې چې تا ته مرګ راشي.

معلومه شوه چې که څوك هر څومره [په حقيقت کښې هُم اوچتو درجو ته] رسيدلے وي، ترڅو پورې چې ژوندے وي او عقل ئې سلامت وي، تر هغې پورې د عبادت نه خلاصے نشته، پاتې شوه د داسې ناپوهه خلقو د مَحَبَّتِ اِلٰهي دعوٰی کول نو بعضې صُوفيائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د "مَحَبَّتِ اِلٰهي" تعريف هُم دا کړے دے: مُوَاطَاةُ الْقَلْبِ لِمُرَادَاتِ الرَّبِّ د الله پاك د خوښې په وړاندې خپل زړه خوړَوَل [يعني چې څه د الله پاك حُکم دے د هغې مطابق ژوند تيرول او د هغه په ازميښتونو صبر کول]. [1]

معلومه شوه چې کوم بنده د الله پاك د احکامو او د الله پاك د رِضا والا کارونو او د الله پاك د خوښې په وړاندې خپل سر ټيټ نه کړي، هغه لا د "مَحَبَّتِ اِلٰهي" ميم ته هم نه دے رسيدلے. په حقيقت کښې د الله پاك سره محبت کوونکے هغه دے څوک چې د الله پاك د رِضا طلبګار دے، د الله پاك د ناراضئ نه ويريږي او که د هغه نه څه ګناه هم اوشي نو فوراً توبه اوکړي، د الله پاك د راضي کولو په فِکر کښې اوسي. کاش چې! د

1 ...رساله قشيريه، صفحه:350۔

حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په بَرَکت مونږ ته هم داسې توفيق رانصيب شي او مونږه هم د الله د رِضا آرزومند جوړ شو، مونږ ته هم **مَحَبَّتِ اِلٰهي** نصيب شي. مونږه هم د **الله** پاك راضي كولو او د هغه د ناراضئ نه د بچ كيدلو د پاره فِكرمند اوسيدلو والا جوړ شو.

د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د ماشوم والي خبره ده چې يو ځل د هغوئې خور په څه خبره اووئيل:الياس! تا به **الله** پاك وَهي. اګرچې هغه وخت اَمِيرِ اَهلِسُنَّت وړوکے وو خو د خور په خبره باندې اويَريدلو او په ډيره زارئ زارئ ئې خور ته بيا بيا دا وئيل چې اووايه! **الله** پاك به ما نه وهي، اووايه! **الله** پاك به ما نه وهي. آخر دا چې په خور ئې دا اووئيل [چې **الله** پاك به تا نه وهي] نو هله په سكون شو. (1)

[**الله** پاک دِ مونږ ته هُم د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په فيضان دغسې خوفِ خُدا او د الله و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَحبَّت رانصيب كړي- آمين]

صَــلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قرآنِ پاك مَحَبَّت، د عبادت خوند

اے **عاشِقانِ رسول**! **الله** پاك په قرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّیْلِ سَاجِدًا وَّ قَآىٕمًا یَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ وَ یَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ (پارہ23،سورۃالزمر:9) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: آيا هغه كس كوم چې د سجدے او قيام په حالت كښې د شپې وختونه په فرمانبردارئ كښې تيروي، د آخرت نه ويريږي او د خپل ربّ د رحمت اُمّيد ساتي. |

1 …تعارف امیر اہلسنت، صفحہ:28۔

د يو قول مطابق دا آيتِ کريمه د اسلام د دريم خليفه، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په شان کښې نازِل شوے دے.[1] او په دې آيت کښې د هغوئي درې صِفات بيان شوي دي: (1) حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د شپې ډيرې سجدے او لمُونځ ادا کوونکے دے، (2) حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د آخرت نه ډير زيات ويريدونکے دے، (3) حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د **الله** پاك د رحمت ډير اُمّيد ساتلو والا دے.

د حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بي بي **مُحتَرَمه** رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به ټوله شپه عبادت کولو او په يو رکعت کښې به ئې د پورا قرآنِ کريم تلاوت کولو. (2)

حضرت زُبَير بِن عَبدُ الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به هميشه روژه نيوله، د شپې په وړومبئ حِصَّه کښې به ئې لږ ساعت آرام کولو، بيا به ئې ټوله شپه په عبادت کښې تيروله. (3)

حضرت عبدُ الرحمان تيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه شپه زه کعبے شريفې ته نِزدے ووم، ما د ماسخُتَن لمُونځ ادا کړو، بيا د مقَامِ اِبراهيم خواه ته اودريدم، په دې کښې **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تشريف راوړو، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سورۀ فاتِحه نه قرآنِ کريم لوستل شروع کړو او تلاوت ئې کولو کولو، تر دې پورې چې پورا قرآنِ کريم ئې مکمل ختم کړو. (4)

---

1 …صِراطُ الجنان، پاره:23، الزمر، تحت الآيه:9، جلد:8، صفحه:439438ماخوذاً۔
2 …الزہد امام احمد، زُہد:عثمان بن عفان، صفحه:105، حديث:673۔
3 …مصنف ابن ابی شيبه، کتاب:صلاة التطوع، باب :بقيام الليل، جلد:2، صفحه:173، حديث:6۔
4 …زُہد لابن المبارک، باب:فضل ذکر الله، صفحه:452، حديث:1276خلاصةً۔

اے عاشِقانِ رسول! اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بَيت! **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د **الله** پاك سره ډېر **مَحَبَّت** کوونکـے دے، او دا خبره د هغوئي د عبادت، تِلاوت او د لمُونځ د ذوق و شوق نه معلومه شوه ❀ **خوك چې الله پاك سره مَحَبَّت کوي** هغه به په کثرت سره عبادت کوي، ❀ **خوك چې الله پاك سره مَحَبَّت کوي** هغه به د فرض لمُونځ سره سره نوافِل هم ډېر ادا کوي، ❀ **خوك چې الله پاك سره مَحَبَّت کوي** هغه به روژے ډېرې نيسي، ❀ **خوك چې الله پاك سره مَحَبَّت کوي** هغه به د تلاوتِ قرآن ډېر شوقين وي ځکه چې قرآنِ پاك د **الله** پاك کلام دے، هغه به څنګه عاشق وي چې د محبوب د کلام سره ئې مينه نه وي....! حضرت عَبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: خوك چې دا معلومول غواړي چې د ده په زړه کښې د **الله** پاك او د هغه د رَسُول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحَبَّت شته او که نه، هغه دِ دا اوګوري چې دے د قرآنِ کريم سره مَحَبَّت کوي او که نه، که د ده په زړه کښې د قرآنِ کريم مَحَبَّت وي نو پوهه شه چې دا د **الله** پاك او د هغه د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره مَحَبَّت کوي.(1)

## د رضائے اِلٰهي طلب او مالي قُرباني

په دريمه سيپاره، سورۂ بقره، آيت نمبر 262 کښې ارشاد دے:

اَلَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا یُتْبِعُوْنَ مَاۤ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّ لَاۤ اَذًىۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْۚ وَ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۲۶۲﴾

(پارہ3،سورۃالبقرۃ:262)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: هغه خلق چې خپل مالونه د الله په لاره کښې خرچ کوي، بيا د خرچ کولو نه پس نه احسان زباتي او نه تکليف ورکوي د هغوئي اِنعام د هغوئي د ربّ سره دے، او په هغوئي به نه څه ويره وي او نه به هغوئي غمژن کيږي.

1 ...كِتَابُ الشِّفَا، جزء:2، صفحه:24۔

مُفَسِّرِينِ کرام فرمائي: دا آيتِ کريمه د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہ عَنْہُ او حضرت عبدُ الرحمٰن بِن عَوف رَضِیَ اللہ عَنْہُ په حق کښې نازل شوے دے، د دې آيتِ کريمه مطابق حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہ عَنْہُ هغه اوچته هستي ده چا به چې د **الله** په لاره کښې ډير مال خرچ کولو خو د خرچ کولو نه پس به ئې نه زباتلو او په چا به ئې چې خرچ کړو هغه ته به ئې تکليف نه رَسَوَلو بلکه نيکي به ئې اوکړه او هيره به ئې کړه يعني د الله په لاره کښې به ئې مال خرچ کړو او داسې به وه لکه چې هير ئې کړي، هيڅ دُنياوي فائده به ئې نه غوښتله. بس د **الله** پاك د رِضا طلب ګار به اوسيدلو.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اندازه اولګوئ! **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہ عَنْہُ څومره لوئ سخي دے چې د هغوئي د سخاوت ذِکر **الله** پاك په قرآنِ کريم کښې کړے دے، د رواياتو مطابق: ❁ چې کله مسلمانانو هجرت اوکړو، مدينے منورے ته راغلل، دلته د اوبو حاجت وو، د خوږو اوبو صرف يو کوهے وو او هغه د يو يهودي وو، **حضرت عُثمانِ غنـي** رَضِیَ اللہ عَنْہُ هغه کوهے واخستلو او د مسلمانانو د پاره ئې وقف کړو، هغه وخت مالِكِ جَنَّت، قاسِمِ نِعمَت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته د جنَّت زيرے ورکړو.[1] ❁ يو ځل د مسجِدِ نَبَوِي د فراخه کولو د پاره د زمکې ضرورت پيښ شو، **حضرت عُثمانِ غنـي** رَضِیَ اللہ عَنْہُ د 20 زره يا 25 زره درهمو (يعني د سپينو زرو سِکو) په بدله کښې زمکه واخستله او د مسجِدِ نَبَوِي د پاره ئې پيش کړه، هغه وخت مالِكِ جَنَّت، قاسِمِ نِعمَت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته د جنَّت زيرے ورکړو.[2] ❁ د حضرت عَلِـيُّ المُرتَظٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللہ عَنْہُ نه روايت دے چې د مسجِدِ حرام شريف، چرته چې کعبه شريفه ده، يو ځل د دې جمات فراخه کولو د پاره د ځائے ضرورت شو، **حضرت عُثمانِ غنـي** رَضِیَ اللہ

1 …رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحه:17۔

2 …رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحه:18۔

عَنۡهُ د 10 زره دينارو (يعني د سرو زرو د سِکو) په بدله کښې يو کور واخستلو او د جمات د پاره ئې وقف کړو، هغه وخت هم خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **حضرت عُثمانِ غنــي** رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته د جنَّت زيرے عطا کړو.[1] ❀ د غزوهٔ تبوك په موقع **حضرت عُثمانِ غنــي** رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ 950 اوښان او 50 آَسُونه د ساز و سامان سره حاضر کړل، بلکه په يو روايت کښې دي: **حضرت عُثمانِ غنــي** رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د غزوهٔ تبوك په موقع باندې 950 اوښان او يو زر او پنځوس 1050 آَسُونه (ټول دوه زره اوښان او آَسُونه) پيش کړل، لس زره اشرفۍ ئې پيش کړې او بيا ئې لس زره ديناره (د سرو زرو) نور حاضر کړل، دغه وخت هم خوږ نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **حضرت عُثمانِ غنــي** رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته د جنَّت زيرے ورکړو.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د **اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن**، حضرت عُثمانِ غنــي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د سيرت پاك نه معلومه شوه چې څوك د **الله** پاك سره محبت کوي هغه د **الله** پاك په لاره کښې د قُربانۍ پيش کولو نه هيڅ کله نه شاته کيږي بلکه د زړه په اِخلاص سره سخاوت کوي، د **الله** پاك په لاره کښې خپل مال خرچ کوي او په مال خرچ کولو کښې ئې څه ښودنه مقصود نه وي، هغه خلقو ته د ښودلو، خپل تعريف کولو د پاره مال نه خرچ کوي، خپل تصويرونه په اخبارونو کښې نه چاپ کوي، په سوشل ميډيا باندې د خپل سخاوت ښودلو په ذريعه غريبان نه رُسوا کوي بلکه صرف او صرف د **الله** پاك د رضا د پاره خپل مال خرچ کوي چې **الله** پاک راضي شي. **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ رِضۡوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكۡبَرُؕ (پاره:10، سورۂ توبه:72) | مفهوم ترجمه کنز العرفان: او د الله رضامندي لوئ څيز دے. |

[1]…رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحه:20۔
[2]…رياض النضرة، فصل:السادس، جز:3، صفحه:16، مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:395۔

تاج و تخت و حکومت مت دے　　　کثرتِ مال و دولت مت دے

اپنی رِضا کا دے دے مژدہ　　　یااللہ میری جھولی بھر دے [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د محبوب د ملاقات د پاره بے قراري

د حضرت سَهْل بِن سَعْد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې يوه ورځ سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابُوبکر صِدِّيق، حضرت عُمَرِ فاروق، حضرت عُثمانِ غنی عَلَيْهِمُ الرِّضْوان دا څلور واړه حضراتِ عالي وقار د اُحُد په غَر موجود وو چې ناڅاپه اُحد غر اوږقيدلو.

بلکه عاشقان خو داسې وائي چې اُحُد غر د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبَّت کوي، ځکه ئې د خوشحالئ نه خوزيدل شروع کړل، نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے اُحُد! اودريږه...! په تا باندې يو نبي، يو صِدِّيق او دوه شهيدان دي. اُحُد غر چې دا خبره واوريدله نو فوراً اودريدو. [2]

سُبْحٰنَ الله! د مالِك ومُختار نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اختيارات اوګورئ چې په غرونو باندې هُم د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم نافِذ دے او د عِلمِ غيب شان ئې هم اوګورئ چې حضرت عُمَرِ فاروق او حضرت عُثمانِ غنی رَضِیَ اللهُ عَنْهُما لا دواړه ژوندي دي، ډير کلونو پس به شهيدان کيږي خو په غيبو باندې خبردار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د مخکنبي نه معلوم وو چې حضرت عُمَرِ فاروق او حضرت عُثمانِ غنی رَضِیَ اللهُ عَنْهُما به شهيدان کيږي.

---

1 ...وسائِلِ بخشش، صفحه:123۔

2 ...بُخاری، کتاب:فضائل اصحاب النبی، صفحه:932، حدیث:3675۔

فقيهِ مِلّت مفتـی جلالُ الدِّین امجدي فرمائي: حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ ته ښه معلومه وه چې د وَلے رواني اوبه اودریدے شي، غر د خپل ځائے نه لرې کیدے شي خو د محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك هیڅ كله نه شي بدلیدے. ځکه د حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ پوخ یقین وو چې حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي نو اوس به زه لازمي شهید کیږم، او ځکه حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ ټول عُمر د خپل شهادت انتِظار هُم کولو،

او د هغوئي د شهادت دا انتِظار کول **الله** پاك په قرآنِ پاك کښې بیان کړي دي، د حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ او د یو څو نورو صحابۂ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان مُتَعَلِّق **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ قَضٰی نَحۡبَهٗ وَ مِنۡهُمۡ مَّنۡ یَّنۡتَظِرُ ۖ (پاره21،سورة الاحزاب:23) | مفهوم ترجمه کنزالعرفان: نو په هغوئي کښې څا خپله منښته پورا کړې ده او څوك لا انتِظار کوي. |

یعنې حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ او یو څو نور صحابۂ کرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان هغه دي چې د شهید کیدلو په ذریعه د **الله** پاك په بارګاه کښې د حاضریدلو په بے قرارئ سره انتِظار کوي. (1) سُبۡحٰنَ الله! څه ښکلے شان دے د حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ ...! چې هغوئي د شهادت انتِظار کولو او **الله** پاک دا انتظار په قرآن کریم کښې هُم بیان کړو-

په 18 ذُوالحِجَّةُ الحرام، سن 35 هجري کښې د 82 کالو په عمر کښې د حضرت عُثمانِ غنــي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ دا انتَظار ختم شو، هغوئي د مسلمانانو 12 کاله خلیفه پاتې شوے وو، د مصر څه خلقو بغاوت اوکړو او په ناحقه د هغوئي د کور مبارك نه را چاپیره شو،

---

1 ...خطبات محرم، صفحه:154ملتقطاً۔

حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہ عَنۡہُ **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن** وو، صحابهٔ کرامو عرض اوکړو: مونږ ته اجازت راکړئ چې د ټورې په زور دا باغيان د دې ځائے نه لرې کړو خو **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہ عَنۡہُ وينه تويَوَل نه خوښول او صبر ئې کولو.[1] آخر دا چې باغيانو 40 ورځې د هغوئي د کور ګيراؤ اوکړو، 40 ورځې هغوئي د لوږې او تندې په حالت کښې تيرې کړې، او دا 40 ورځې هغوئي روژے اونيولې او آخر دا چې په ډير ظُلم و سِتَم سره شهيد کړے شو، په آخري وخت کښې هُم هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د قرآن کريم په تلاوت کښې مصروفه وو.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د سيرتِ حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د دې انداز نه معلومه شوه چې څوک **اللّٰه** پاک سره مَحَبَّت کوي هغه د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې د حاضرئ او د هغه د ملاقات ډير زيات شوق لري، په حديث شريف کښې دي: **مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ اَحَبَّ اللّٰهُ لِقَائَهٗ** يعني څوک چې **اللّٰه** پاک سره د ملاقات شوق لري، **اللّٰه** پاک د هغه ملاقات خوښوي۔

**مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: په دې حديث شريف کښې د **اللّٰه** پاک د ملاقات نه مراد مرګ دے ځکه چې صرف مرګ د **اللّٰه** پاک د ملاقات ذريعه ده، خو د **اللّٰه** پاک د ملاقات خوښولو مطلب دا نه دے چې بنده د مرګ خواهش اوکړي، د مرګ دعاګانې اوکړي، داسې کول خو منع دي بلکه د **اللّٰه** پاک د ملاقات د شوق نه مراد دا دے چې بنده په دُنيا کښې زړه نه لګوي، د آخرت تياري کوي او هر وخت د **اللّٰه** د رضا والا کارونو کښې مشغول اوسي،

[1] ...کرامات عثمان غنی، صفحه:3،14۔

داسې بنده **اللّٰه** پاک خوښوي، او داسې کس ته به د **اللّٰه** په رحمت د مرګ نه پس جَنَّت ته داخليدل او د **اللّٰه** پاک دِيدار کول نصيب کيږي۔

## د مَحبَّتِ اِلٰهی حاصلولو نُسخے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږه د **اللّٰه** پاک د محبت فضائل واوريدل، **اللّٰه** پاک سره د مَحبَّت کوونکي يو بنده حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د سيرتِ پاک يو څو خبرې مو واوريدلې، څومره قابِلِ رَشک سِيرت دے، اوس مونږه غور اوکړو چې دا "مَحبَّت اِلٰهی" مونږ ته څنګه حاصليدے شي؟ دا اَهم سوال دے، د دې د جواب د پاره د والِدِ اعلٰی حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د فرمان خلاصه واورئ! فرمائي: اصل کښې مَحبَّت ګسبي نه دے، يعني مونږه په خپل کوشش او محنت د **اللّٰه** پاک مَحبَّت نه شو حاصلولے، دا د **اللّٰه** پاک په عطا ملاويږي، **اللّٰه** پاک چې چا له اوغواړي ورنصيب ئې کړي، خو! دا خبره طے ده چې د زړه د صفائي نه بغير دا دولت په لاس نه شي راتلے، لِـهذا څوک چې د مَحبَّت اِلٰهی طلبګار وي نو هغه دِ وړومبے خپل زړه د باطني بيمارو نه پاک کړي، بيا که **اللّٰه** پاک ته منظوره وه نو خپل مَحبَّت به ورعطا کړي۔

والِدِ اعلٰی حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نور فرمائي: نهه څيزونه دي چې هغه د **اللّٰه** پاک مَحبَّت حاصلولو کښې مددګار دي: ﴿1﴾ هميشه په اوداسه کښې اوسيدل چې دې سره زړه روښانه کيږي ﴿2﴾ خَلوَت (يعني ګوشه نشيني، تنهائي) چې د خلوت په ذريعه بنده د دُنيوي مشغولياتو نه فارغه وي، دې سره حوَّاس ساکِن شي او تَوجُّه سره د **اللّٰه** پاک د يادولو او د زړه او دماغو حاضر ساتلو او د **اللّٰه** پاک طرف ته د مُتَوَجِّه کيدلو موقع ملاويږي، خصوصاً که د تِيَرے والا مکان وي نو د خلوت زياده فائده کيږي، څوک چې په تِياره کښې نه شي کښيناستلے، هغه ته پکار دي چې په سر باندې کپړه واچوي او سترګې پټې کړي، دغسې دِ په تنهائي کښې ناست د **اللّٰه** پاک ذِکر کوي۔ ﴿3﴾ سُکُوت

يعني خاموشي چې خاموشۍ سره عقل روښانه کيږي، د پوهې او ياد ساتلو قوت ورسره مضبوطيږي- ﴿4﴾ لوَږه (يعني کم خوراک کول) ﴿5﴾ بيداري (يعني کم اُوده کيدل)، ﴿6﴾ نفئ خواطِر يعني زړه د فضولو فکرنو او خيالاتو نه پاک ساتل ﴿7﴾ هر حال کښې په رضائے اِلٰهی باندې راضي اوسيدل ﴿8﴾ فِکرِ سالِم، يعني د شرعي اُصولو مطابق د **اللّٰه** پاک په نعمتونو، يعني د هغه په قدرتونو وغيره کښې غور کول ﴿9﴾ ذِکرِ دائِم، يعني هميشه د **اللّٰه** پاک په ذِکر کښې مصروفه اوسيدل-

دا نهه کارونه چې څوک پابندۍ او اِستِقامت سره کوي نو د **اللّٰه** پاک د رحمت نه اُمّيد دے چې هغه ته به د **اللّٰه** پاک مَحبَّت نصيب شي- اِنْ شَآءَاللّٰهُ الكريم

## 12 ديني کارونو کښې يو دِيني کار: مَدَني قَافِله

اے **عاشقانِ رَسُول!** نيک جوړيدلو، د ګناهونو نه بچ کيدلو او د دې په ذريعه د **اللّٰه** پاک د مَحبَّت حاصلولو د کوشش کولو د پاره عاشقانِ رَسُول سره په **مَدَني قَافِلو** کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ، د دې په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د **عاشِقانِ رَسُول** صُحبت حاصل کړئ، عِلمِ دِين زده کول به درنصيب شي، د نيکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدلو ذِهن به مو جوړ شي او د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې د سُنَّتِ انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام يعني د نيکۍ دعوت عام کولو موقع به درنصيب شي-

## د ګناهونو نه خلاص شو

د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زه د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول ته راتلو نه مخکښې په ګناهونو کښې اخته ووم، شراب څښل، د مور و پلار زړه آزارَول او لمونځونه قضا کول زما معمول وو، يو ځل زما خورئي [يعني د خور ځوئ] ما ته مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، ما ټال مټول کولو خو هغه هِمَّت اُونه بيلو او

مسلسل ئې دعوت راکولو، آخر زه يو ځل د مَدَني قافلے مسافر جوړ شوم، د مَدَني قافلے په دوران کښې د نيکئ دعوت او د سُنَّتو ډکو بيانونو اوريدلو موقع په لاس راغله، ورسره ورسره راته د شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مختلفې رسالے لوستل هُم نصيب شو، بس د دې ټولو څيزونو په ما داسې اثر اوشو چې په زړه کښې مې انقلاب راغلو، ما د ګناهونو نه رښتيني او پخه توبه اوکړه، شراب څښل مې پريښودل، لمونځونه کول مې شروع کړل او د مور و پلار فرمانبردار جوړ شوم، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مَدَني قافلے په بَرَکت مې کِيره پريښوده، د عِمامے شريفې تاج مې په سر کړو، اوس زه په يو جُمات کښې مُـؤَذِّن يم او اَلْحَمْدُ لِلّٰه پينځه وخته لمونځ د جَمعې سره د ادا کولو سعادت حاصلووم-[1]

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم، چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو |
| که اُلفتِ مُصطَفیٰ او غواړئ خوفِ خُدا | قافلو کښې لاړ شئ قافلو کښې لاړ شئ |
| که د مدينے اُلفت، غواړئ دا مَحبَّت | اوګټئ به دا نعمت، قافلو کښې لاړ شئ |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د **اللّٰه** پاك رحمت وي، عرض اوکړے

[1]...شرابی مؤذن کیسے بنا؟، صفحہ:15-

شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت كوونكي او نورو ته زده كوونكي۔[1]

## د مظلُوم مدد كول سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چې د يو مظلوم مدد اوكړي، **الله** پاک به د هغه د پاره 73 مغفرتونه اوليكي، د هغو نه به د يو په ذريعه د هغه ټول كارونه سَم شي او د 72 په ذريعه به د قيامت په ورځ د هغه درجے اوچتې شي۔[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د مظلوم مدد كول سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي ❁ زمونږه آقا مكِّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مظلومانو مدد كولو او په ظالـمانو به ئې د هغوئي حق ادا كولو ❁ چا به چې هُم فرياد راوړلو د هغه مدد به ئې كولو، يو ځل يو يتيم حاضر شو او شكايت ئې اوكړو چې اَبُوجَهل د هغه مال قبضه كړے دے، اګر چې ابوجهل سخت دُشمنِ مُصطَفیٰ وو خو د مظلومانو سردار، د بے وسو مددګار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ابوجهل نه هغه مال واخستو او هغه يتيم ته ئې حواله كړو[3] ❁ يو ځل يو اُوښ په باركاهِ رِسالت كښې ژړا فرياد اوكړو نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُوښ مالِک را اُوبلو او هغه ته ئې اوښ ته د پوره خوراک وركولو او د بوج كم بار كولو تلقين اوكړو۔[4]

---

[1]...جامع بيانِ عِلم، بَابُ:عِلْم كے فضائل، جلد: 1صفحه:201، حديث:220۔

[2]...شُعَبُ الْاِيمَان، باب: التعاون على البر، جلد:6، صفحه:120، حديث:7670۔

[3]...سيرة الحلبيه، باب: عرض قريش، جلد:1، صفحه:445۔

[4]...ابوداؤد، كتاب: الجهاد، صفحه:408، حديث:2549۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې ځوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

مونږ ئي هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږ ئي هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئي چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْكَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵